مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۱۰/۲۶

# غزل

## کچکول په غاړه د سولې سوال

چاړې د ظلم مې سینې قبولې کړې په ځان

ما لـه دردونـو ډکې شپې قبولې کړې په ځان

هـوسا ژونـدون مې د نفاق پـه لمبـو وسیځلـو

په اټکلونو مې لمبې قبولې کړې په ځان

لکه ملنګ کچکول په غاړه سوال د سولې کوو

چې مو د جنګ ترخې شیبې قبولې کړې په ځان

د غیرت نښه د پښتون هسکو شملو کې نښته

د بې ننګۍ مـو دا شملې قبولې کړي په ځان

یه پسرلېه څمکه لاړه، آسمان هم نه لرو

له بې غـورۍ مو زلزلې قبولې کړي په ځان

**** **** ****

## یادونه:

که چیرې ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

کچکول په غاړه د سولې سوال

Mostafa_p_kajkol_paghala_de_sole_sawaal.pdf